مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکواله: اغلي ښپه پکاهي
شاعر : سميع الدين افغاني

۲۰۲۰/۰۱/۲۸

# انساني جوهر




يـوه ورځ پاچا، وزير سره خلـوت کې
پلار خبر يې کړه راياد غمجن حالت کې

ويل : زلمی وم پلار بــه تل راتــه ويل
چې ته نــه بــه شي سړی ، تل وه رټل

اوس خو دا دی پاچا شوی يم نامداريم
کاشکي پلار مي وای ژوندی په اقتداريم

که پلارجان مي وای ژوندی په دا جهان
اوس بــه وای پــه خپل خبرې پښيمان

اوس پاچا يم اقتدار مي شته شهرت هم
هم می زر شته هم جايداد لرم عزت هم

په جواب کــې وزيـر وويل : علی شانه
دا ارمان بــه دې پـوره شي مهربانه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

پلار دې اوس هم لا په کلي کې اوسيږي
دې زوړ شوی د راتلو وس يې نه کيږي

درباريانو سره لاړ شه پلار تــر کلي
وزيران ځان سره بــوزه نور ښاغلي

پلار چې وګوري دا تاج د ستا په سر
درباريان هم پــه تعظيم يې د پسر

چې بيا وګوري دا ستا شان او شوکت
شي به پوه چې اوس پاچا دی با عزت

شي پيښمانه بيا بــه واخلي خپل خبر
بيا بــه ووايي سړی شوې اوس پسر

شوه پاچا تــه د وزيــر خبره غوره
شو راضي د خپل وزيــر پدې خبره

درباريان يې خپل دربار کې کړل حاضر
پلار تر کلي د تلو امر يې کړ صادر

پاچا سپور په قوی اسپ شو معلومدار
زين د زرو نعـل د زرو ښــه بيدار

دی شو مخکی لښکريان راتله تر شا
تــول ولس يې اقتدار پــه تماشا

کوم ګړی چې پاچا کلي ته نژدې شو
کلي ځنګ ته قرارګاه په جوړيدو شو

امر يې وکړلو سپاهيانو ته پاچاه
لاړ شئ راولئ يې پلار تر قرارګاه

سپاهيان په منډه لاړل پلار تر کوره
په زحمت يې زوړ پلار راوسته کمزوره

پلار چې وليده خپل زوی په اسپ دی سپور
دی په مخ کې دی ولاړ ورته بې زور

بيا پاچا وويل پلارته په دا شان
زمان تا ويل : سړی به نشم هيڅ

دادی زور لرم هم زر شته، اقتدار
ها خبر دې بيرته واخله ګرانه پلار

تا به تل راته ويل نه سړی کيږې
اوس پاچا يم حقيقت دی که پوهيږې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پلار ویل چې مبارک دې پاچاهي شه
دا شوکت دې مقتدرهم د شاهي شه

کوم خبره چې پرې زه لرم اسرار
چې ته نه به شې سړی وایم تکرار

که سړی واې ته راغلی به وې کور ته
د زوړ پلار او د ځوانی د وختو لور ته

ته د اسپ په سر یې سپور درته ولاړ یم
اوس لا هم ځانله سړی وایی نامدار یم

پاچا کوز شو د خپل اس نه هغه ان
د خپل پلار پښو ته پریوت علیشان

ویل: چې پلاره تا رښتا کړی وینا ده
انسانیت نه په کوم تخت نه په دونیا ده

ویل : ښښنه درنه غواړم ګرانه پلاره
اوس دې پوه کړم سړیتوب په اصلي لاره

پلار یې ونیو پاچاه محکم تر لاس
د پلار کور ته شو داخل ډیر په اخلاص

انسانیت د سړي زیب دی هم جوهر دی
انسانیت نه په پیسو دی نه په زر دی
--------------------------------
۲۷ ـ ۱ ـ ۲۰۲۰
م ۰ کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ